**یلماز شلیک د ترکیې د قضایي محکمې په حکم ازاد شو**




د حزب التحریر ولایه-ترکیه غړی، یلماز شلیک د قضایي محکمې په حکم له بندخونې ازاد شو. د ترکیې قضایي محکمې د ۲۰۱۸م کال د اکتوبر په ۲٦مه د دې لپاره چې د یلماز شلیک قانوني حق تر پښو لاندې شوی و د هغه د له سره محکمه کېدو حکم صادر کړ. یلماز شلیک د دینزلي زندان په T سالون کې د حزب التحریر د غړیتوب په جرم بندي و. وروسته له هغه چې د انقرې د جرایمو اوومه محکمه د یوولسمې هغې ځاینستې شوه، د بېرته له سره محکمه کولو حکم یې په دې خاطر وکړ چې د نوموړي قانوني حق خوړل شوی و. یلماز شلیک د ۲۰۱۸م کال د نومبر په ۱۹مه، دوشنبه ماښام د دینزلی زندان له T سالونه نه ازاد شو.

د محکمې دا حکم تاییدوي چې د ترکیې محکمو له حزب التحریر سره زیاتی کړی، دغه حزب په خپل دعوت کې له زور او تاوتریخوالي کار نه اخلي خو بیا یې هم غړي د ترهګرو په نوم نیول کېږي. نو تر اوسه چې د دوی پر وړاندې ځومره محکمې شوې د بې بنسټه تورونو له امله باطلې شوې دي

**﴿فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا  إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا﴾**

*ژباړه: ځکه چې تل له سختی سره، ارامتیا او سوکالي وي او په یقین سره چې په هره سختی پسې اساني وی.*

**لیکوال: حمزه پارسا**

**۱۴۴۰ هـ . ق، د ربیع الاول ۲۰مه**

**۲۰۱۸م کال، د نومبر ۲۸مه**